PROPERTY OF ACKU

DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۱۰۱۶

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یولسم کال – دویمه دوره،۱۰۱۶ مه گڼه، پر له پسې ۲۰۹۱ گڼه د ۱۳۹۰ل.دوري ۲۱ مه – د یکشنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـق جمادي الاول ۵ مه د ۲۰۱۱ د اپریل ۱۰ مه

د کابل پروني ځانمرګي بريد شاوخوا ۱۰ تنه تپيان کړل

نن د کابل په احمدشاه بابا مېنه کې يو ځانمرګی بريد وشو چې په نتيجه کې لس کسان تپيان شول، چې د چارواکو په خبره په تپيانو کې ملکيان او پوځي کسان شامل دي.

د بريد هدف د ملي اردو د سرتېرو او افسرانو موټر و، چې په پېښه کې دري ملکيان او اووه تنه پوليس تپيان شوي دي. په تپيانو کې د ځينو وضعيت نازک ښوول شوی دی. د کابل د امنيې قوماندانی

۳مخ

بلاخره لوی څارنوال به ولسي جرګې لاړ شي او که نه؟



د افغانستان د لوی څارنوال او ولسي جرګې تر منځ له راپيدا شوې لانجې دا دي څو ورځې تېرې شوې، خو لانجه لاتر اوسه هم پر خپل ځای پاتې ده. دا لانجه هغه مهال ډېره توده شوه، کې کله ولسي جرګې لوی څارنوال محمد اسحق الکو خپلې غونډې ته د استجواب لپاره وبالله. ولسي جرګه ادعا کوي، چې لوی څارنوال د ملت د خونې په هکله د تېرو پارلماني ټاکنو په ترڅ او ناقانونه څرګندونې کړي او له همدې امله يې نوموړی خپلې غونډې ته استجواب کړ، خو نوموړي د ولسي جرګې د استجواب غوښتنه ونه منله، بلاخر ولسي جرګې د لوی څارنوال د استيضاح پرېکړه وکړه او نوموړی د روان کال دوري ميا شتې د شلمې نېټې شنبې ورځې ته ولسي جرګې ته د استيضاح لپاره وغوښت، خو دی بيا هم حاضر نه شو او ولسي جرګې ته يې ليک واستاوه، چې په يوه مناسب فرصت کې به د دوی غونډې ته حاضر ېږي، خو دا هم معلومه نه ده، چې ايا دی به څه وخت او کله دې کار ته حاضر شي؟ ځکه ده تر دې مخکې ويلي وو، چې ولسي جرګې ته د استيضاح لپاره نه ورځي او نه هم ولسي جرګه د ده د استيضاح حق لري. د لوی څارنوال مرستيال رحمت الله نظري دوري پر ۱۶ مه، د استيضاح د پرېکړې په اړه په کابل کې خبريالانو ته وويل: ((د ولسي جرګې غړي دې قانون مطالعه کړي او وروسته له هغه دې د څارنوال د استيضاح يا نه استيضاح خبره وکړي.))

۲مخ

عزل احتمالی ۲ تن از وزرای کابینه؛

افزایش تنش میان کابل و واشنگتن!

دیپلوماتان خارجی و مقام های افغان گفته اند، در تغییراتی که در کابینهٔ رییس جمهور کرزی مد نظر گرفته شده است، احتمالاً وزرای دفاع و مالیه سمت های خود را از دست بدهند.

به گفتهٔ آنها، حامد کرزی فکر می کند که این دو وزیر به متحدان غربی افغانستان بیش از حد نزدیک می باشند.

این اقدام از دیدگاه بسیاری روابط آسیب دیدهٔ افغانستان و جامعهٔ بین المللی را دچار مشکل خواهد کرد. در صورتی که این دو فرد از سمت خود عزل شوند، از میزان نفوذ امریکا در دولت افغانستان کاسته خواهد شد.

گفتنی است که اگر سترجنرال عبدالرحیم وردک و داکتر حضرت عمر زاخیلوال برکنار شوند، بعد از برکناری امرالله صالح، رییس سابق امنیت ملی و حنیف اتمر، وزیر داخلهٔ قبلی در ماه جون سال ۲۰۱۰ بزرگترین تغییر در کابینه خواهد بود.

وحید عمر، سخنگوی رییس جمهور کرزی این هفته در پاسخ به سوال هایی در رابطه با تغییرات احتمالی در کابینهٔ کشور اعلام کرد، در خصوص

جزییات این تغییرات تصمیم نهایی یی اتخاذ نشده است و ما به محض اتخاذ تصمیم نهایی، اسامی را به طور علنی اعلام خواهیم کرد.

گفتنی است، جنرال وردک که از سال ۲۰۰۴ تا حال وزیر دفاع می باشد، اجرا کنندهٔ پلان ها برای تشکیل اردوی ملی افغانستان به شمار می رود. تشکیل و تقویت اردوی ملی افغان برای حکومت اوباما اولویت دارد؛ زیرا با تشکیل اردوی ملی افغانستان، زمینه برای امریکا مساعد می شود که نیروهای خود را در کشور از میدان جنگ خارج کند. از این سبب امریکا قرار است، در سال جاری برای

ص۳

امریکا اوس هم په افغانستان کې پټ زندانونه لري

په امریکا کې د ۲۰۰۱ کال سپټمبر د ۱۱ مې تروريستي حملو وروسته چې د مشکوکو تروريستانو لپاره کوم مخفي زندانونه جوړ شوي وو، د وخت په تېريدو سره يې شمېر کم شوی.

د بشري حقونو ډلو او پخوانيو بنديانو مخکې ويلي وو، چې د امريکا پوځ په افغانستان کې مخفي زندانونه لري، خو د امريکا دفاع وزارت به دا خبره ردوله. د امريکا پوځ او حکومتي چارواکي دا مهال مني، چې په افغانستان کې زندانونه لري خو وايي، دا د سختو شرايطو لاندې فعال دي او په باګرام کې د خاصو ځواکونو د ګډې قوماندانۍ د تروريزم ضد ځواکونو له خوا اداره کېږي.

بنديانو د ساتلو موقتي مرکزونه دي او مشکوک کسان په کې تر ۹۰ ورځو پورې ساتل کېږي. دوی وايي، د بنديانو د بند موده له هغوی څخه د معلوماتو په ترلاسه کولو پورې اړه لري.

يوه امريکايي چارواکي چې د موضوع د محرميت له وجې يې د نامه له ښودلو ډډه کړې، اسوشيټډ پرېس اژانس ته ويلي، په افغانستان کې د امريکا د پوځ شاوخوا شل زندانونه تر

په پټو زندانونو کې د تروريزم ضد ځواکونو له خوا اداره کېږي.

په دغو زندانونو کې د تروريزم ضد خاص ځواکونه له مهمو مشکوکو کسانو څخه تحقيقات کوي او بنديان معمولا د طالبانو اوالقاعده شبکې کسان وي. اسوشيټډ پرس ليکي، د امريکا د پوځ يو زندان د افغانستان يوه ستر او مشهور زندان ته نژدې جوړشوی او ويل کېږي له يوه کاله زياتې مودې راهيسې فعال شوی دی. په افغانستان کې د پټو زندانونو مسئله ځکه مهمه ده

۳مخ

سایمون گس به جای مارک سدویل

سایمون گس " سفیر بریتانیا در ایران جانشین "مارک سدویل " نمایندهٔ غیرنظامی ناتو در افغانستان شد.

به گزارش فارس نیوز، "دیوید پترائوس " قوماندان نیروهای ناتو در افغانستان دیروز در مراسمی از فعالیت‌های مارک سدویل قدردانی کرد.

سایمون گس که قرار است، به عنوان نمایندهٔ جدید ناتو در افغانستان ایفای وظیفه نماید قبل از این به عنوان سفیر بریتانیا در تهران ایفای وظیفه می کرد.

این در حالی است که قرار است، تا چند ماه آینده، قوماندان نیروهای ناتو نیز بدل شود.

کارشناسان به این باور اند که استراتیژی ناقص جنگ امریکا در افغانستان و بروز اختلافات بر سر این جنگ میان مقام های نظامی کشورهای دخیل در آن، باعث شده است، تا این کشورها به تغییر و تبدیل مهره های خود درا فغانستان دست بزنند.



بلاخره لوی څارنوال به ولسي جرګې لاړ شي او که نه؟ ۲

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

شورای عالی صلح، نیازمند راهکارها و برنامه های جدید

از شش ماه به اینسو به خاطر استقرار صلح در کشور، دولت با تاسیس شورای تازه در این راستا، وارد فاز جدید شد؛ این شورا به خاطر جذب و تشویق اعضای طالبان به روند صلح و انجام مذاکرات با آنها ایجاد گردید، اما با این وجود، تا کنون چشم انداز روشنی از فعالیت های این شورا ملموس نیست؛ هرچند گفته می شود، در فلان ولایت در فلان ساحه به این و آن تعداد از نیروهای طالبان تسلیم شدند، اما به باور اکثر مردم، این روش، در واقع، به گونه یی دنبال همان راهکارهای ناکارآمد کمیسیون صلح به رهبری حضرت صبغت الله مجددی است که بیشتر از هشت سال به اینسو در سرتاسر کشور فعالیت داشته است، ولی تا هنوز نتوانسته طوری شاید و باید در صفوف نیروهای مخالف نفوذ نموده و برنامه هایش را طرح نماید.

به هر حال، سفارت امریکا در این اواخر، در کابل اعلام کرد، کاخ سفید برای تشویق طالبان به ترک جنگ و همچنین کمک به بازسازی مناطق جنگزدۀ افغانستان، حدود ۵۰ میلیون دالر به شورای عالی صلح این کشور کمک می کند.

این کمک مالی که قراراست، از طریق دولت افغانستان در اختیار شورای عالی صلح قرار گیرد، برای اجرای برنامه های انکشافی در مناطقی که طالبان حاضر به پیوستن به روند آشتی ملی هستند، به مصرف می رسد.

این در حالی است که مقام های محلی می گویند، از زمان آغاز به کار این شورا در سال گذشته، حدود دوصد میلیون دالر از سوی کشورهای مختلف به این شورا، کمک شده است.

کمک مالی جامعۀ جهانی به شورای عالی صلح افغانستان، عامل مهمی در پیشبرد سیاست این شورا مبنی بر ترغیب طالبان به پیوستن به روند صلح و ترک جنگ است. کارشناسان بر این باور اند، سیاست شورای عالی صلح افغانستان برای بازگشت ثبات و آرامش به کشور، باید دارای دوجنبه باشد. به گفتۀ کارشناسان، رویکرد این شورا برای پیوستن رده های فرماندهی طالبان و اعضای این گروه به روند آشتی ملی باید بترتیب از طریق مذاکره و امتیازدهی شامل تضمین تامین مسکن و شغل باشد.

با توجه به نگرانی اعضای گروه طالبان در بارۀ سرنوشت خود پس ازجنگ و پیوستن به روند صلح، دولت افغانستان و به ویژه شورای عالی صلح باید نگرانی آنان در بارۀ تامین نیازهای اولیه را برطرف کنند. مشخص شدن سیاست دولت افغانستان در قبال تامین مسکن و شغل برای آنان، زمینۀ مناسبی را برای ترغیب اعضای طالبان به ترک جنگ فراهم می کند.

برهمین اساس است که افزایش انگیزۀ نیروهای عملیاتی طالبان برای ورود به روند آشتی ملی که بخش عمدۀ نیروی انسانی این گروه را تشکیل می دهند، در تحقق هدف شورای عالی صلح مبنی بر بازگشت ثبات و آرامش به کشور، نقشی حیاتی دارد.

به نظر می رسد، تدابیر دولت افغانستان برای ترغیب طالبان به ترک جنگ باید ازطریق شفاف سازی برنامه های خود برای فراهم کردن زمینۀ بازگشت آنان به روال عادی زنده گی، دنبال شود. باید ابراز داشت در صورت نبود برنامۀ مشخص و راهکارهای شفاف، کارآمدی و فعالیت این شورا نیز، همانند کمیسیون صلح سردرگم و در هالۀ ابهام خواهد بود.

بلاخره لوی څارنوال به ولسي جرګې...

نسیم بریال



نظري وايي، چې قانون جوړوونکو د ځینو شرایطو په پام کې نیولو سره، له ولسي جرګې څخه د لوی څارنوال د استیضاح صلاحیت اخیستی دی. هغه زیاته کړه: ((که ولسي جرګې کولای شول، چې څارنوال استیضاح کړي، نو بیا هیڅ مهال څارنوال د خپل ځان له وړې مجرم وکیل تر تعقیب لاندې نه شو راوستی.)) هغه وایي، چې د قانون له مادو څخه باید قیاس ونه شي، ځکه چې قیاس ډېر ستونزې راپیدا کوي. نومورې زیاته کړه، چې یو شمېر وکیلانو دغه پرېکړه د دې لپاره، چې د ولسي جرګې په تېرو ټاکنو کې یې درغلۍ کړې او اوس په وېره کې دي، چې څارنوالي یې تر تعقیب او تحقیق لاندې را نه ولي، کړې ده. دغه راز ده وویل: ((که ولسي جرګه د لوی څارنوال په غیاب کې پرېکړه وکړي، د منلو وړ نه ده.)) خو د ولسي جرګې یو شمیر غړي وایي، چې دغه جرګه د اساسي قانون د ۹۰۲ مې مادې له مخې د څارنوال د استیضاح واک لري. په یاده شوې ماده کې راغلي: ((ولسی جرګه د خپلو غړو د شلمې برخې په وړاندیز کولای شي، له هر یوه وزیر څخه استیضاح وکړي. که وړاندې شوې توضیح د قناعت وړ نه وي، ولسي جرګه د عدم اعتماد د رایې موضوع څېړي. له وزیر څخه د عدم اعتماد رایه باید صریحه، مستقیمه او پر پخو دلایلو ولاړه وي، دغه رایه د ولسي جرګې د ټولو غړو د رایو په اکثریت صادر ېږي.)) په یاده ماده کې د څارنوال د استیضاح په اړه څه نه دي راغلي، خو په ولسي جرګه د فراه د خلکو استازي محمد سرور عثماني ویلي، چې وزیر او څارنوال دواړو ته ولسي جرګه د اعتماد رایه ورکوي، نو ځکه د دواړو د استیضاح صلاحیت لري. د اساسي قانون په ۶۴ مه ماده کې راغلي، چې ولسمشر د ولسي جرګې په تایید د وزیرانو او لوی څارنوال ټاکل او د هغوی د عزلولو او استعفا منلو صلاحیت لري. دغه راز د ولسي جرګې دویم مرستیال احمد بهزاد هم وایي، چې د لوی څارنوال استیضاح قانوني بڼه لري. هغه وایي، چې تېر کال پر اساسي قانون د څارکمېسیون، ولسي جرګې ته یو مکتوب استولی، چې له مخې یې د څارنوال استیضاح د ولسي جرګې صلاحیت بلل شوی دی. بهزاد د څو ورځې وړاندې د ولسي جرګې په غونډه کې دغه مکتوب ولوست، چې په کې راغلي وو: ((په دغه مکتوب کې ۹۲ مه ماده تفسیر شوې او له مخې یې د څارنوال استیضاح کول د ولسي جرګې حق بلل شوی دی.)) خو د ولسي جرګې یوشمیر غړي د لوی څارنوال استیضاح، د شخصي عقدو له مخې بولي. په ولسي جرګه کې د ننګرهار استازې ارین یون تېره اوونۍ وویل، چې د لوی څارنوال د استیضاح غوښتنه د یو شمیر وکیلانو د شخصي عقدو له مخې شوې ده. د یون په وینا، هغه وکیلان د لوی څارنوال د استیضاح غوښتونکي دي، چې د ولسي جرګې په تېرو ټاکنو کې یې په درغلۍ رایې ترلاسه کړې دي. دغه راز یون وایي: ((ایران پلوي وکیلان د لوی څارنوال استیضاح غواړي، ځکه دوی د ایران د پیسو په مټ په درغلۍ رایې ترلاسه کړې دي او نه غواړي، چې څارنوال یې افشا کړي.))

په ولسي جرګه کې د لغمان د خلکو استازی انجنیر محمدعالم قرار هم، د یون خبرې تاییدوي. هغه هم د ولسي جرګې یو شمیر غړي د څارنوال د استیضاح ۳ مخ

سرایت ویروس مافیای زمین در دستگاه تحصیلات عالی

امین

این جرتومه خبیث نخستین بار با تاسیس حکومت موقت در لباس یک وزیر امریکایی افغانی تبار تبارز کرد که به منظور خوشخدمتی و اثبات صداقت و وفاداری به پیمانی که با حکومت متبوعش بسته بود، فارم تجربوی و تحقیقاتی پوهنحی زراعت را با کمال وقاحت و بی حیایی در اختیار امریکاییان قرار داد، تا خودش در آنجا جای پایی پیدا کند، چنانکه حالا همان جلالتماب در پوهنتون امریکایی به حیث (مبصر) شامل خدمت می باشد.

بار دیگر این ویروس در وجود یک پوهاند جوان (اما در حقیقت سخت ناجوان) که با انواع حیله و نیرنگ، فریب و ترفند به ریاست پوهنتون طبی کابل رسید و گفته می شود که سمت مشاوریت رییس جمهور را نیز حاصل کرده بود، چنانکه سال گذشته بحیث وزیر تحصیلات عالی نیز پیشنهاد شد و وعده های چرب و نرمی به پارلمان می داد که با تقررش در مقام وزارت، فاکولتۀ محیط زیست را تأسیس خواهد نمود!! اما از پارلمان رای اعتماد گرفته نتوانست. به هر حال در مورد اخلاق و خصایل او بیشتر بحث نمی کنیم، تا غیبت تلقی نشود، ولی آنچه از اضرار این ویروس به جامعه رسیده باید برملا گردد، تا مراجع مسؤول از آن آگاهی داشته باشند. این پوهاند (ناجوان) بعد از احراز مقام ریاست پوهنتون طبی یکی از شفاخانه های بسیار قدیمی و مشهور علی آباد را که بعدها دارالمجانین یا دیوانه خانه گفته می شد، به فرانسوی ها فروخت تا در آنجا شفاخانه بنا کنند و بنا هم شد، بعدتر در صدد آن شد که بلاک های رهایشی استادان پوهنتون کابل را که استادان طب نیز، در آن اقامت دارند، در اختیار نهاد آغاخان بگذارد، در آنجا شفاخانۀ دیگری تاسیس نماید و یا همان شفاخانۀ فرانسوی ها را که در اصل از بنیاد آغاخان است، توسعه دهد، این جرتومه بعدها تکثر کرد و در وجود یک گروپ از وزیران و شخصیت های دیگری نیز سرایت نمود، تا اینکه همه دست به دست هم داده فیصله کردند که بلاک های پوهنتون را که در حدود پنجاه خانواده از استادان در آن سکونت دارند، به بنیاد آغاخان فروخته شود.

خواننده عزیز! شما قضاوت کنید، آیا وزارت تحصیلات عالی برای فروش ملکیت های دولت تأسیس ص۳

امریکااوس هم په افغانستان ...

چې جمهور رییس بارک اوباما به د سي. ای. اې له خوا په جوړیو شویو زندانونو انتقادونه کول په کومو کې به چې تراوبو لاندې کولو په ګډون له پخوانیو سختو میتودونو څخه کار اخیستل کېده. د بشري حقونو مدافع ډلې وایي، په زندانونو کې د بوش د وخت تحقیقات بند شوي خو بیاهم په زندانونو کې د نویو تحقیقاتي میتودونو او چلند په اړه پوښتنې موجودې دي.

اژانس لیکي، جمهور رییس اوباما له ټاکل کیدو سره سم ژمنه کړې وه، چې له دې وروسته به متحد ایالات، له شکنجو څخه کار نه اخلي خو پخوانیو بندیانو ویلي، په زندانونو کې له دوی سره غیر انساني چال چلند شوی دی. د بشري حقونو کارکوونکي دافغني افیاتار وایي، په افغانستان کې د امریکا له پټو زندانونو څخه خوشي شویو بندیانو ورته ویلي، دوی د بند په جریان کې د امریکا د خاصو ځواکونو له خوا تهدید شوي، ځان لوڅولو ته اړ شوي، په تیاره او سړو کوټو کې ساتل شوي او ۲۴ ساعته ورته د برښنا ګروپونه چالان پاته شوي دي.

مېرمن افیاتار وایي، د دوی څېړونکې ډله باور نه کوي، چې د امریکا د خاصو ځواکونو په مخفي زندانونو کې دې د بوش د وخت په څېر د تحقیقاتو تاکتیکونه استعمالېږي، خو له مشکوکو کسانو څخه د معلوماتو د ترلاسه کولو په مقصد، هغوی له تحقیقاتو مخکې وېرول کېږي او ځورول کېږي. د امریکا د خاصو ځواکونو د عملیاتو ویاند ډګرمن تیم نایي دا تورونه ردوي او ټینګار کوي، چې له بندیانو سره د امریکا د نویو او نړیوالو قوانینو له مخې انساني چال چلند کېږي. په افغانستان کې دېره امریکایي چارواکي وایي، د ناټو او امریکایي ځواکونو قوماندان جنرال ډېویډ پټرویس تېر کال ټینګار کړی و، چې د خاصو ځواکونو د ګډې قوماندانۍ زندانونه او مرکزونه دي د افغان چارواکو او نړیوال سره صلیب د استازو پر مخ خلاص شي. د سره صلیب کارکوونکو تر اوسه نه دي ویلي، چې دوی دغو زندانونو ته ورغلي او که څنګه؟ امریکایي چارواکي وایي، کله چې یو مشکوک تروریست نیول کېږي، په ساحې کې ورځخه پوښتنې کېږي، چې معلوم شي له وسلوالو سره یې تړاو څه ډول دی. دا کس وروسته په یوه موقت زندان کې تر ۱۴ ورځو پورې ساتل کېږي او وروسته د پروان زندان ته انتقالېږي. تر اوسه نه ده څرګنده، چې څه شمېر کسان د امریکا د پوځ په موقتي زندانونو کې بندیان دي. د زندانونو ویانده پامیلا کونځ وایي، دا مسئله محرمه ده خو د بندیانو شمېر زیات نه دی.

دا وایي، که چېرې د مشکوکو تروریستانو پر ضد قوي شواهد موجود وي نو د پروان زندان ته استول کېږي او وروسته په افغاني محکمو کې محاکمه کېږي. دا مهال د پروان زندان کې شاوخوا ۱۹۰۰ تنه بندیان ساتل کیږي او زندان د ۲۶۰۰ بندیانو ظرفیت لري. امریکایي چارواکي وایي، د دغه زندان چارې به په تدریجي ډول افغانان ته وسپارل شي، خو د موقتي زندانونو برخلیک به په افغانستان کې په امنیتي وضعې او دغه راز افغان ځواکونو ته د امنیتي مسولیتونو د سپارلو په ترڅ پورې اړه ولري.

لوی څارنوال به ولسي جرګې ...

په برخه کې په شخصي عقدو تورنوي او وایي، دا کار ځکه کوي چې په تاکنو کې یې درغلي کړې دي.

بلخوا د چارو کارپوهان هم د لوی څارنوال استیضاح قانوني نه بولي. د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي استاد نصرالله ستانکزي وایي، چې د اساسي قانون د ۹۲مې او ۷۱مې مادو مطابق ولسي جرګه د لوی څارنوال د استیضاح صلاحیت نه لري. ستانکزی وایي، چې په یاده ماده کې یوازې د وزیر د استیضاح وضاحت ورکړل شوی او د څارنوال په اړه په کې څه نه دي راغلي.

د اساسي قانون په ۷۱مه، ماده کې راغلي: ((حکومت له وزیرانو څخه جوړ دی، چې د جمهور رییس تر ریاست لاندې کار کوي. وزیران د جمهور رییس له خوا تاکل کیږي او د تایید لپاره ملي شورا ته ورپیژندل کیږي. د وزیرانو شمېر او دندې د قانون له لیارې تنظیمیږي.))

خو د اساسي قانون په ۱۳۴مه، ماده کې راغلي، چې څارنوالي د اجرائیه قوې برخه ده او په خپلو اجراتو کې خپلواکي لري. دا هغه جریان و، چې په دې څه موده کې د ولسي جرګې او لویې څارنوالۍ ترمنځ جریان لري، خو دا چې د ولسي جرګې او لوی څارنوال ترمنځ به دا روانه لانجه کله او څه ډول پای ته رسېږي، په دې اړه ډېر شکونه او اندېښنې راپورته شوي دي. ځینې کسان فکر کوي، چې په دې کې د ګاونډیو هېوادونو لاس شته، او په دې سره غواړي، لوی څارنوال سلب اعتماد کړي، ترڅو په ولسي جرګه کې د یو شمېر هغو کاندیدانو چې د دوی په ملاتړ بریالي شوي او په تاکنو کې د درغلۍ تورونه ورباندې لګېدلي دي، برخلیک له خطر سره مخ نه شي. همداشان داسې اندېښنې هم شته، چې ښایي لوی څارنوال که چېرې ولسي جرګې ته حاضر هم شي، خو ولسي جرګه ښایي ترې د باور رایه واخلي او سلب اعتماد یې کړي، خو په دې صورت کې به لوی څارنوال، لاهم لوی څارنوال وي، خو برخلیک به یې د تېرې دورې د ښاغلي سپنتا په شان وي، چې ولسي جرګې سلب اعتماد کړی و، خو بیا هم پر خپله څوکۍ پاتې او او پرېکړې یې ولسي جرګې ته د منلو نه وې. نو اوس هم ښایي هماغه مسئله تکرار شي، څارنوال به سلب اعتماد شي، خو پر څوکۍ به پاتې وي او پرېکړې به یې قانوني نه ګڼل کېږي. نو په دې توګه د ولسي جرګې د تاکنو په اړه د روان سریال نور د افغان دولت د سیاست او ددغه هېواد هرڅه له ګډوډۍ او شرم سره مخ کړي، نور باید په هر ډول چې وي، دا سریال راونغاړل شي او د پای ټکی ورته کېښودل شي، حکومت، ولسي جرګه، د تاکنو کمېسیونونه، ستره محکمه، ځانګړې محکمه، لوی څارنوالي او نور اړوند ارګانونه دې سره ګډ کښېني او د افغانستان ولس او هویت ته دغه لوی زیان رسوونکی سریال پای ته ورسوي او د حل یوه داسې یوه ډیپلوماتیکه لاره او چاره ورته وموميِ، چې د هېواد د ملي ګټو او ملي ارزښتونو د خوندیتوب په پام کې نیولو سره د ټولو لوریو د قناعت وړ وي.

افزایش تنش میان کابل ...

تقویت و تجهیز قوای امنیتی افغانستان ۱۱،۵ میلیارد دالر مصرف نماید.

به گزارش شبکۀ اطلاع رسانی به افغانستان به نوشتۀ روزنامۀ وال استریت ژورنال، مقام های غربی برکناری احتمالی جنرال وردک را نگران کننده شمرده و می گویند، این عمل شاید بر تشکیل اردوی ملی افغانستان نیز، تاثیر بگذارد، ولی آنها این تصمیم را یک اقدام فاجعه بار نمی دانند؛ زیرا امریکا انتظار دارد که بازهم در وزارت دفاع افغانستان کم و بیش نفوذ خواهد داشت.

کاندیدای احتمالی برای این سمت احتمالا جنرال عبدالرؤوف بیگی خواهد بود که از اقلیت های ازبک بوده و از سوی عبدالرشید دوستم حمایت می شود. دیپلوماتان غربی عمدتا این اقدام را به عنوان راهکاری که کرزی برای جلب رضایت افراد غیر پشتون ها استفاده می کند، می دانند.

وزیر مالیه نیز، علاوه بر مناقشات مربوط به بانک کابل با توجه به افشاگری های ویکی لیکس نیز، دچار مشکل شده است. سال گذشته ویکی لیکس مکالمات محرمانه یی را منتشر کرد که طی آن زاخیلوال رییس جمهور کرزی را در حضور دیپلوماتان امریکایی فردی به شدت ضعیف خوانده بود.

اما مشکل اینجاست که کرزی گزینه های کمی برای جایگزینی وی در اختیار دارد. چنانکه زاخیلوال از سمت خود برکنار شود، روابط میان واشنگتن و کابل دچار تنش خواهد شد.

هنوز معلوم نیست که رییس جمهور کرزی چه تصمیمی خواهد گرفت؟ مسلماً عزل این دو وزیر با واکنش های زیادی رو به رو خواهد شد، رییس جمهور برای آرام ساختن جامعۀ جهانی چه خواهد کرد؟!

سرایت ویروس مافیای ...

گردیده است؟ ملکیت هایی که در کمپلکس پوهنتون کابل واقع است و یا برای رشد فرهنگ؟

این وزارت از یکطرف اعلام می دارد که همه ساله به تعداد داوطلبان تحصیلات عالی به صورت چشمگیری افزایش به عمل می آید، ولی از جانب دیگر زمین های پوهنتون را بی باکانه بفروش می رساند، هرگاه حدس و گمان ها و یا تخمینات آنان مبنی بر افزایش تعداد داوطلبان تحصیلات عالی درست باشد، دو سه سال بعد تر پوهنتون مجبور به اعمار صنوف درسی جدید خواهد شد، آنگاه صنوف درسی را در هوا بنا خواهد کرد؟! چون در کمپلکس پوهنتون دیگر جایی برای تعمیرهای جدید باقی نمی ماند.

بنابر ملحوظات فوق و ده ها ملحوظ دیگر، استادان پوهنتون کابل نه تنها ساکنان، بلاک ها، بلکه به صورت عموم، به سمع کلیۀ مقامات مسؤول بالخاصه پارلمان کشور می رسانند که به عنوان حامی منافع ملت جلو همچو خودسری ها را بگیرند و نگذارند، شخصیت های مصاب به ویروس مافیای زمین در ارگان های علمی و فرهنگی کشور رخنه کند.

به همه گان آشکار و هویداست که اگر یک فرد و افرادی به ملاقات این وزیران ویروس زا ضرورت شدید داشته باشند، در مدت یک هفته، بلکه بیشتر از آن به حضور شان باریاب شده نمی توانند، پس چگونه این شخصیت های بزرگ در مدت اندکی گرد هم جمع می شوند و تصمیم قاطع به فروش بلاک های رهایشی پوهنتون و الحاقیه های آن می گیرند که بیشتر از ده جریب زمین را احتوا می کند؟ مطلب واضح و صریح است که زیر کاسه نیم کاسه است، یقیناً پای منافع شخصی در بین است، در غیر آن، وزارت تحصیلات عالی چه ضرورتی به فروش زمین ها و ملکیت های پوهنتون خواهد داشت و وزیران دیگر به تصویب آنچه مجبوریت دارند؟

هرگاه وزیر تحصیلات عالی خواسته باشد، وظایف خطیر خود را با صداقت و درستی پیش ببرد، باید پلان های دولت را مبنی بر اسکان استادان پوهنتون کابل در جوار کمپلکس پوهنتون عملی سازد. این پلان در زمان سلطنت مرحوم محمدظاهر شاه در دهۀ اخیر سلطنتش که به نام دهۀ دموکراسی یاد می شود و در تاریخ معاصر افغانستان عصر طلایی شمرده می شود، طرح شده بود؛ چنانکه در زمان حکومت مرحوم نوراحمد اعتمادی به پیشنهاد مرحوم داکتر جاوید رییس پوهنتون وقت، دو بلاک رهایشی به طور نمونه بنا گردید و قراربود که بلاک های دیگری در ساحۀ ده بوری و ساحۀ وزارت زراعت که ملکیت پوهنتون می باشد، اعمار گردد، تا از یک طرف برای استادان سهولت فراهم گردد و از طرف دیگر، از مصارف ترانسپورتیشن استادان که در مناطق دور از ساحۀ پوهنتون سکونت داشتند، صرفه جویی به عمل آید، ولی کودتای ۲۲ سرطان ۱۳۵۲ به رهبری مرحوم محمد داؤود خان همۀ این طرح ها نقش بر آب شد؛ قابل یادآوری است که در دهۀ اخیر دورۀ حکومت جناب رییس جمهور کرزی اگر این وزارت رهبری سالم می داشت، این طرح ها به سهولت عملی می شد، زیرا با سرازیر شدن وجوهی که از طریق مساعدات بین المللی خصوصاً ایالات متحدۀ امریکا به افغانستان مساعدت گردید، شرایط برای تطبیق آن کاملاً مهیا و آماده بود.

د کابل پرونې ځانمرګي برید ...

ویاند حشمت الله ستانکزي رسنیو ته وویل چې دا یو ځانمرګی برید و او برید کوونکی نه دی پېژندل شوی. د برید مسوولیت تر اوسه چا نه دی منلی او افغان چارواکي وایي څوک وژل شوي نه دي.

ناکارآمدی سازمان ملل در لیبیا

تحلیل – گلف نیوز



به نظر می‌رسد، قطعنامهٔ سازمان ملل در رابطه با مداخلهٔ نظامی در لیبیا به ایجاد آیندهٔ بهتری برای این کشور منجر نمی‌شود.

دخالت نیروهای نظامی به ندرت ممکن است، زمینه را برای حل مسالمت آمیز مناقشات فراهم بیاورد و احتمالا به آشفته گی اوضاع در محدوده‌یی که از مراکش تا اندونیزیا کشیده شده، دامن می‌زند.

در سال‌های اخیر، روسیه، امریکا و کشورهای غربی دریافته‌اند که در موارد بسیاری ساختارهای اجتماعی و نیز آماده گی افراد برای گذشتن از جان و مال در راه عقاید مذهبی، بحران‌هایی غیر قابل پیش بینی را ایجاد می‌کند.

فروپاشی نظام حاکم امر محتملی است، اما چالش تشکیل دولت جدید برای مدت طولانی حتا تا چندین دهه ممکن است، همچنان ادامه یابد.

در مورد لیبیا این امید وجود داشت که مداخلهٔ نظامی نیروهای خارجی نتیجه‌بخش و مثمرثمر واقع شود، چرا که این اقدام می‌تواند، به موفقیت دست یابد و معمر قذافی، حاکم مستبد لیبیا را وادارد، تا از خشونت و کشتار معترضان دست بردارد.

جامعهٔ بین المللی در خصوص اعزام نیرو به لیبیا نگرانی‌هایی داشت و در نهایت دلیل مداخلهٔ نظامی را "تعهد به محافظت از افراد" خواند. این مفهوم همواره در سیر تحولات جامعه بین المللی مطرح بوده است. با این حال مداخلهٔ نظامی با قوانین سازمان ملل مبنی بر عدم دخالت در امور داخلی اعضا مطابقت ندارد.

در خصوص لیبیا، شورای امنیت سازمان ملل با تصویب قطعنامه‌یی این اجازه را به نیروهای ایتلافی داد که برای محافظت از جان غیرنظامیان تمام تدابیر لازم را اتخاذ کنند. این در حالی بود که کشورهای مهمی همچون روسیه، هند و برزایل تصمیم گرفتند، از هرگونه اقدام و مداخلهٔ نظامی خودداری کنند.

با صرف‌نظر از محافظه کاری شدیدی که از سوی این کشورها بروز یافت، انتظار می‌رفت، قدرت امریکا و سایر کشورهایی که در این ایتلاف شرکت داشتند، به سرعت با به کارگیری تمام ظرفیت‌های خود، اوضاع آشفته لیبیا را آرام کند، حکومت قذافی را از آسیب رساندن به مردم باز دارد و شرایطی به وجود آورد که انتقال قدرت به نظامی دموکراتیک در قالبی مسالمت‌آمیز میسر گردد.

تاکنون شبهاتی دربارهٔ موفقیت نیروهای ایتلافی شکل گرفته است؛ اول اینکه این انتقاد به طور روزافزون وجود دارد که بمباردمان هوایی از میزانی که در قطعنامهٔ سازمان ملل مشخص شده بود، تجاوز کرده و ممکن است، نقش پارتیزانی یی در شکل گیری جنگ داخلی ایفا کند.

دوم، انگیزه‌های فرانسه و بریتانیا به طور رو به رشدی نسبت به چشمداشت در منابع نفتی و گازی لیبیا و نیز، بازار این کشور برای فروش اسلحه به دولتی که پس از رژیم قذافی تشکیل خواهد شد، مورد ظن است. بدیهی است که دولت جدید نیاز مبرمی به تشکیل ارتش و تهیه تجهیزات نظامی خواهد داشت.

نکتهٔ سوم این است که مقابلهٔ نظامی در منطقه وارد مرحلهٔ جدیدی شده که در آن غیرنظامیان در هر صورت در معرض آسیب قرار می‌گیرند. شورش‌ها با حمایتی که از سوی ایتلاف و تسلیحات جدید صورت می‌گیرد، بسیاری از شهرها را فرا گرفته است، اما مسأله اینجاست که روز به روز معترضان بیشتری در درگیری با نیروهای قذافی جان خود را از دست می‌دهند.

به نظر می‌رسد، قذافی توانسته با استفاده از نیروها و تجهیزات نظامی خود در شهر المصراته طوفانی به راه بیاندازد. با توجه به حملات هوایی و شدت آن ظاهرا این حملات همچنان به طور متقابل ادامه خواهد داشت.

ظاهرا هیچ یک از دو طرف قادر به شکل دهی برنامهٔ سیاسی خاصی برای پایان دادن به درگیری‌ها نیست.

به نظر می‌رسد، قذافی گزینهٔ دیگری جز تن دادن به جنگ ندارد، مگر اینکه فرستاده گان وی به دیگر کشورها در این شرایط بحرانی و سردرگم بتوانند، در خصوص مصونیت وی وارد مذاکره شوند.

قطعنامهٔ سازمان ملل احتمالا متضمن آیندهٔ بهتری برای لیبیا نخواهد بود. همچنین احتمال بروز درگیری‌های قبیله‌یی در این کشور که از ۱۴۰ قبیلهٔ کوچک و بزرگ تشکیل شده، وجود دارد.

تصمیم شتابزدهٔ طرابلس برای استفاده بیش از حد از نیروهای نظامی برای سرکوب درگیری‌ها به طور قطع یکی از اصلی‌ترین عوامل نابسامانی سیاسی در لیبیاست.

در هر حال، بزرگترین و اصلی‌ترین چالش حال حاضر لیبیا خاتمه دادن به درگیری‌ها و حفظ قلمرو لیبیا به عنوان کشوری مستقل با ویژه گی‌های یک کشور عرب است. این اهداف تنها در صورتی به نحو احسن قابل دستیابی است که جهان عرب بتواند، در خصوص بحران لیبیا خود وارد عمل شود و حل و فصل آن را به طور کامل به جامعهٔ بین المللی ارجاع ندهد.

کنوانسیون رفع کلیه تبعیضات علیه زنان

ماده بیست و نهم: ۱– هرگونه اختلاف در تغییر یا اجرای این کنوانسیون بین دو دولت یا اعضای بیشتر که از طریق مذاکره حل نگردد. بنابه تقاضای یکی از طرفین به حکمیت ارجاع میگردد.

اگر چنانچه ظرف شش ماه از تاریخ درخواست تشکیل داوری، طرفین درمورد تشکیل آن به توافق نرسند، یکی ازطرفین میتواند درخواست نماید تا موضوع به دیوان بین المللی دادگستری مطابق به اساس نامه دادگاه ارجاع گردد.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ – ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې دسرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې دلیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل:– ۰۷۰۰ ۵۹۶۲۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل:– ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل:– ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com